# رغونه

## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د ذوالحجې ۳مـــه، ۱٤٤٦ هــ.ق کال
غبرګولی/جوزا ۱۰ مه، ۱۴۰۴ هــ.ش

لومـړی کال، پرلـه پسـي ۱٦مـه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


مهترلام ښاروالۍ د پارکونو د شینوالي او ناروغیو مخنیوي لپاره دوا پاشي پیل کړه

## په دې ګڼه کې لولئ:


- غزني — غزني ښار د خواجه بهايي جان اغا سرک چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې
- مزار شریف — مزارشریف ښار د امارت سـرک دویم فاز بنستیزې چارې په چټکۍ سره رواني دي
- مزار شریف — کانکریت ریزی یک سرک به هزینـه ۴ میلیون افغانی در شهر مزارشریف آغاز گردید
- هرات — اولین پـل هوایـی در منطقه چوک فرهنگ شـهر هرات افتتاح و بهره برداری رسید
- بدخشان — سرک مینا بازار برای سـهولت شـهروندان بازگشایی و پاک‌سازی گردید
- فراه — فراه کې د ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښـت د عسـکر اباد سرک د لومړی برخې رغنیزې چارې پیل شوې
- لغمان — مهترلام ښاروالۍ د پارکونو د شینوالي او ناروغیو مخنیوي لپاره دوا پاشي پیل کړه
- میدان وردګ — میـدان ښــار د زېرزمینـي مارکیټ رغنیـزې چارې بشپړې شوې
- هلمند — د هلمند جادې د لپول کارې چارې پیل شوې
- غزني — غزني ښار د پښتون اباد سـرک د کانکریټ چارې رسماً پیل شوې
- سرپل — کار رنگمالی تعمیر جدید تحویل‌خانه ریاست شـاروالی شهر سرپل تکمیل گردید
- پروان — شـاروالی چاریکار مسیر سـیلاب در ناحیه پنجم شهر چاریکار را باز نمود


### جلال اباد ښــار اوومـه ناحیه کـې د ۷،۲ میلیونه افغانیـو په ارزښـت د سـرک او ویالـو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې



جلال اباد

### مزارشریف ښــار کې دوه پرمختیایي پروژې د ۱۰ میلیونـه افغانیـو پـه ارزښـت بشـپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې




مزار شریف

### غزني کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په لګښـت د څلورو پروژو چارې پیل شوې



غزني

## ترینکوټ ښار کې د ښاري ښکلاوو د فعالیتونو په دوام د منار ځلورلارې څراغونه روښانه شو



اروزګان ۱

د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله په لارښوونه د یاد ریاست د ښــاري حکومتولۍ او د تخنیکي او مسلکي عمومي مدیریتونو لخوا د ښاري ښکلاوو د فعالیتونو په دوام او لوی اختر په راتګ سره د ښــار منار ځلورلارې څراغونه نصب او روښانه شول.

ښاغلي مولوي هدایت الله د یاد ریاست مطبوعاتي دفتر سره په خپلو خبرو کې وویل؛ د یادو نصب شویو څراغونو د روښانه کولو ترڅنګ کوښښ کوو چې د ښــار د تفریحي پارکونو په شمول د ښار یو شمېر نورې برخې هم روښانه کړو.

نوموړي د ســیمې له اوسېدونکو څخه وغوښتل چې د ښار په پاکوالي کې او د ښاري اصولو سره سم د صفایۍ محصول پر وخت تحویلولو سره به ښار ته د پام وړ پاملرنه وکړي.

نوموړي زیاته کړه؛ پلان سره ســم به ښــاري خدمتونه ترسره کېږي او ورته نورو ښاري ښکلاوو په برخه کې به خپلې چارې لا جاري وساتو.

بل لور ته ښــاریانو د ښــاروالۍ د دې اقــدام هرکلی وکړ او خوښــي یې وښــوده چې ښــار روښانه شــو او د ترینکوټ ښــاروالۍ د دا ډول فعالیتونو د ســتایلو ترڅنګ یې د ښار د نظافت په برخه کې د ترینکوټ ښاروالۍ سره د پوره همکاریو ډاډ څرګند کړ.

## په کندهار ښار کې د غړېزې ککړتیا د مخنیوي په موخه د ګویاو ټولولو نظارت ترسره شو



کندهار ۲

د مارکېټونو تنظیم امریت او د ښــاري نظم ګډ کمېسیون په همکارۍ د ښــار په څلورو لویو بازارونو او همداراز په پنځمه، پنځلســمه او دولســمه ناحیه کې د هغو ګویاو راټولولو او له منځه وړلو نظارتي بهیر ترسره شــو چې د غړېزې ککړتیا او د خلکو د اذیت سبب ګرځېدلي و.

په دې نظارت کې مســؤولینو له ټولو کراچۍ چلوونکو څخه ګویاوې راټولې او ضبط کړې.

همداراز ټولو کراچۍ چلوونکو ته جدي سپارښــتنې وشوې، چې له دې وروسته دې په ښار کې له غړېزې ککړتیا او ښاري بې‌نظمۍ څخه ډډه وشي.

## غزني ښار د خواجه بهایي جان اغا سړک چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



غزني ۳

د غزني ښــاروالۍ له لوري د خواجه بهایي جان اغا سړک د کانکریټي رغونې چارې د ۸.۵ میلیونه افغانیو په مالي لګښت سره بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

یاد ســړک چې د غزني ښار د روضې اړوند د سلطان محمود غزنــوي مزار جنوبي خوا ته موقعیت لري ٦٠٠ متره اوږدوالی ٦ متره پلنوالی او ۵۵٠ متره لښتي لري، چې د سړک رغنیزې چارې په دریو میاشتو کې بشپړې شوي دي.

د دې پروژې تطبیق د ښار د اوسېدونکو لپاره د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې کړي، د چاپېریال ښکلا یې زیاته کړې او د سیمې د ښاري خدمتونو د ښه والي په موخه یو مهم ګام بلل کېږي.

د غزني ښــاروالۍ مشرتابــه او ټیم ژمنه لري چې د ښــار د بنسټیزو پروژو له لارې به د خلکو ژوند ته اسانتیاوې رامنځته کوي او د ښــاري خدمتونو د معیاري کېــدو په برخه کې به خپلې هڅې لا پیاوړې کوي.

## غزني ښار د خواجه بهایي جان اغا سړک چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



غزني ۴

د غزني ښــاروالۍ له لوري د خواجه بهایي جان اغا سړک د کانکریټي رغونې چارې د ۸.۵ میلیونه افغانیو په مالي لګښت سره بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

یاد ســړک چې د غزني ښار د روضې اړوند د سلطان محمود غزنــوي مزار جنوبي خوا ته موقعیت لري ٦٠٠ متره اوږدوالی ٦ متره پلنوالی او ۵۵٠ متره لښتي لري، چې د سړک رغنیزې چارې په دریو میاشتو کې بشپړې شوي دي.

د دې پروژې تطبیق د ښــار د اوســېدونکو لپاره د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې کړي، د چاپېریال ښکلا یې زیاته کړې او د سیمې د ښاري خدمتونو د ښه والي په موخه یو مهم ګام بلل کېږي.

د غزني ښــاروالۍ مشرتابــه او ټیم ژمنه لري چې د ښــار د بنسټیزو پروژو له لارې به د خلکو ژوند ته اسانتیاوې رامنځته کوي او د ښــاري خدمتونو د معیاري کېــدو په برخه کې به خپلې هڅې لا پیاوړې کوي.

## جلال اباد ښــار اوومــه ناحیه کــې د ۷،۲ میلیونه افغانیو په ارزښــت د ســړک او ویالــو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې



جلال اباد ۵

د جلال اباد ښــاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسســې په تخنیکي همکارۍ د اوومې ناحیې په لومړي ګذر کې د ٦٧۵ مترو په اوږدوالي، د ۵ مترو په پلنوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې.

د جلال اباد ښــاروالۍ د تخنیکي او ســکتوري چارو رئیس انجــینر وحیدالله مخلــص او ورسره مــل پلاوي د پروژې له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مسؤولینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د ســیمې ۱۱۵ تنه کاریګر کار کوي. ۷،۲ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي. یاده پروژه به په نږدې راتلونکې کې بشــپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوســېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي ښوده او په راتلونکي کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسســو په مرســته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

## مهترلام ښــار قرغیــو ښــاروال د لاسي پلورونکو سره ناسته وکړه




لغمان ٦

د قرغیو ښاروال ښــاغلي خالد شریفي د چهار باغ بازار هغو لاسي پلورونکو سره د ښــاروالۍ په مقر کې ناسته وکړه چې جنســونه یې د سرک پرغاړه او پلې لارو په سر خرڅول، یادو اشخاصو ته د ښاغلي شریفي لخوا لازمې سپارښتنې وشوې او زیاتــه یې کړه چې اینده کې باید داســې ځــای کې خپل جنسونه خرڅ نکړئ چې ولس او ښــاریانو ته د تګ او راتګ برخه کې ســتونزې جوړه کړئ، لاسي پلورونکو تعهد وکړ چې بیا ځل به داسې عمل نه ترسره کوي.

## مهترلام ښــار د کابل بانک د مخــې ویالې پاکولو چارې ترسره شوې

د مهترلام ښــاروالی د تنظیف کارکوونکو نن د ښار په یوه مهمه برخه کې د چاپیریال د پاکوالي چارې ترسره کړې، دغه پاک‌کاري د کابل بانک د مخې ویالې وه، چې له څو ورځو راهیسې د کثافاتو، خټو او خځلو له امله ډکه شوې وه چې د یادو کارکوونکو له لورې په بشپړ ډول پاکه شوه.

د ښــاروالی د تنظیف کارکوونکو له ویالې څخه خځلې او کثافات راټول کړل، ترڅو د اوبو د بهیدو مخه خلاصه او ښار له ناپاکۍ څخه وژغورل شي.

بایــد وویل شي چې د مــهترلام ښــاروالی د تنظیف او سرسبزی مدیریت زیارکښ کارکوونکي هره ورځ د مهترلام ښــار په ټولو برخو او ناحیو کې د پاک چاپیریال برابرولو په موخه خپل فعالیتونه کوي.

د مهترلام ښــاروالی رهبري د مهترلام ښار له ټولو ښارېانو غوښتنه کوي چې د ښار په پاک ساتلو کې له ښاروالی سره همکاري وکړي، کثافات د ښاروالی له لوري په لګول شویو کثافات دانیو کې واچوي، ترڅو د تنظیف کارکوونکي یې یو لرې ځای ته انتقال او دفن کړي.

لغمان ۷

## دومین جلســه بورد مشــورتی شاروالی پلخمری برگزار شد




بغلان ۱۰

دومین جلسه بورد مشــورتی سال ۱۴۰۴ شاروالی پلخمری ولایت بغلان به سرپرســتی آمر حکومت داری و اشتراک آمر تخنیکی ومسلکی، مدیر عمومی عواید، مدیریت های نواحی ششــگانه و مدیریت های مربوطه در تالار جلسات شاروالی پلخمری برگزار شد.

در این جلسه در مورد باقی داری صفایی، پاک کاری به موقع کثافات شهر و نواحی ششگانه و تکمیل کار گلدان سرک این قریه بحث و گفتگو همه جانبه صورت گرفت.

مدیریت های نواحی و بخش های مربوطه گزارشــات کاری، پیشــنهادات و ضروریات خویش را ارائه نمودند که از جانب اعضای جلســه مورد بحث و تبادل نظر قرار گرفت و پیرامون آن تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## مسابقات یونی فایت با حمایت شاروالی محمودراقی در ولایت کاپیسا برگزار شد

شاروالی محمودراقی مسابقات ورزش های رزمی به سبک یونی فایت را میان ۱۰ ولایت کشور در ولایت کاپیسا برگزار کرد که در این رقابت ها ۱۴۰ تن از ورزشــکاران تیم های مختلف ولایات اشتراک داشــتند و با نمایش اســتعداد، مهارت و روحیه ورزشی، فضای پرشور و رقابتی را رقم زدند.

هدف اصلی از راه‌اندازی این مســابقات رشد ورزش های رزمی، شناسایی چهره‌های با استعداد و فراهم‌سازی زمینه برای پیوستن جوانان نخبه به تیم های ملی کشور عنوان شده است.

در پایان این مسابقات، تیم شاروالی محمودراقی با عملکرد درخشان خود توانست مقام نخست را از آن خود کند و جام قهرمانی را به دست بیاورد .

این رقابت‌ها نمونه از همبســتگی ورزشــی میان جوانان کشور و گامی مؤثر در جهت پیشرفت ورزش های رزمی در سطح ملی ارزیابی می‌گردد.

کاپیسا ۱۳

## جلسه اداری ریاست شاروالی انجیل برگزار شد

جلســه اداری شــاروالی انجیل ولایت هــرات با حضور مسئوولان و نمایندگان مدیریت های حکومتداری، عواید، املاک، انجنیری، محاسبه، تدارکات، خدمات، کنترل، تنظیف، نظارت و ارزیابی و مدیریت های نواحی سه گانه در ریاست شاروالی ولسوالی انجیل برگزار شد.

هدف از این نشست ارائه و تشریح خلاصه ای از سیمینار یک روزه ای بود که در ولایت قندهار با حضور مقام معظم امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی و شاروالان سراسر کشور برگزار گردید.

در جریان جلســه هدایات و رهنمود هــای مقام به طور رســمی برای مدیران و کارمندان ابلاغ شد و همچنین در ادامه حاضرین به بررسی مشــکلات جاری در حوزه های اداری و اجرایی پرداخته و بر ضرورت پیاده ســازی دقیق توصیه ها و اســتفاده از این رهنمود ها در مسیر اصلاح و بهبود عملکرد ادارات تأکید کردند .

هرات ۸

## پروژه اعمار دو باب پلچک واقع بلند شاهی مربوط ناحیه اول شاروالی انجیل به ارزش ۱۹۰۵۶۰ افغانی از بودجه انکشافی شــاروالی به طول مجموعی هر دو به طول ٦ متر و عرض های ۱.۵ و ۰.۸ متر در ناحیه اول شاروالی انجیل اجرا می‌گردد.



هرات ۱۱

## جدول‌ها (کِرب‌استون) برای ۱.۵ کیلومتر جاده فرعی در ناحیه سوم و چهارم شهر چاریکار ولایت پروان توسط شاروالی چاریکار نصب گردید.



پروان ۱۴

مدیر حکومتداری شاروالی ولسوالی شکردره ولایت کابل با تیمی که از طرف شاروالی ولایت کابل جهت جمع آوری سگ ها ولگرد تعیین شده بود به تعداد ۱۵ قلاده سگ ولگرد و دیوانه را از ساحه کوچکین و پنجه چنار جمع آوری نمودند و به مکان مناسب آن انتقال دادند.

شکردره/ کابل ۹

جلسه ماهوار اداری شاروالی قلعه نو با اشتراک ملا راز محمد ذاکر شاروالی قلعه نو، مدیران عمومی، مدیران و ماموران اداره شاروالی قلعه نو برگزار گردید. شاروالی قلعه نو ضمن تشویق فعالیت‌های کارمندان در مورد سیمینار مرکزی شاروالان به گونه مفصل صحبت نمود.

بادغیس ۱۲

جلسه اداری شاروالی فیض‌آباد ولایت بدخشان به رهبری مولوی حبیب الرحمن منصور، شاروالی بدخشان با اشتراک مدیران و کارکنان این اداره برگزار گردید و در باره چالش‌های موجود در مندوی، مینابازار و مسائل مرتبط با مدیریت نواحی مختلف شهر گفت‌وگو صورت گرفت.

بدخشان ۱۵

## ســاخت گلدان های رسته چینی فروشــی در سمت شرقی روضه مبارک جریان دارد



مزار شریف ۱۶

به منظور ایجاد محیط پاک و سرسـبز، ساخت گلدان های رسـته چینی فروشی در سـمت شرقی روضه مبارک توسط شاروالی مزارشریف به همکاری شهروندان شهر جریان دارد.

ساخت گلدان های مذکور شامل کندن کاری، خاک برداری، نصب جدول های اطراف گلدان، هموار کاری خاک زراعتی، کشت چمن و غرس گل های زینتی می‌باشد.

## مزارشریف ښار د امارت ســړک دویم فاز بنستیزې چارې په چټکی سره روانې دي



مزار شریف ۱۷

د مزارشریف ښار شپږمې ناحیې کې د امارت سړک دوهم فاز بنســتیزې چارې په چټکی سره روانې او هڅه کیږي چې د دې مهم او ترانزیتي سړک د جوړولو پروژه د قرارداد تر پای ته رسیدو مخکې په پرمختللي او بنستیز ډول بشپړه شي.

نوموړي ســړک باندې چې شلوبیښــت (۴۰) میلیونه افغانۍ لګښت راځي ۱۴۰۰ متره اوږدوالی او ۱۴ متره پلنوالی لري، چې د لښــتیو جوړولو، د ســړک کیندلو، خــاورې لېږدولو، هوارولو چارې یې بشپړې شــوي او د سړک بستر جوړونې یا بیس کورس چارې یې په ښــه ډول او چټکتیا سره روانې دي چې د قیرریزۍ چارې به یې ډېر ژر پیل شي.

همــداراز د امارت ســړک جوړولو چارو څخــه د مزارشریف ښــاروالۍ انجنیري او تخنیکي ټیم پراو پــه پراو څارنه کوي ترڅو نوموړې پروژه د ډیزاین او د قرارداد د مادو مطابق د بلخ اســتانبول ســاختماني او ســړک جوړونې شرکت له خوا په معیاري ډول تطبیق شي.

د لښتیو او ګلدانونو، جوړول، په سړک د کربنو اچول او د یوه معیاري سړک نور جزیات پکې شامل دي چې تر دې دمه یې (۶۰) سلنه چارې پر مخ تللي دي.

## مزارشریف ښار کې دوه پرمختیایي پروژې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



مزار شریف ۱۸

د مزارشریف ښــار پرمختګ او معیاري ودې په موخه د ښــار دولس ګونو ناحیو کې د ۲۴ اشــتیلي پلچکونو او د ګلدانیو شاوخوا کانکریټي جدولونو جوړولو او نصبولو چارې د شاوخوا ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړې او د مزارشریف ښاروال ســکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید، د ښاروالۍ ځلورمې ناحیې امر مولوي طاوس دلسوز، د ښاروالۍ تنظیف او سرسبزۍ امر مولوي اختر محمد هنر، د ښاروالۍ څارنې او ارزونې امر ډیپلوم انجنیر زلمی رحیمي، د ښاروالۍ سکتوري او تخنیکي امر انجنیر سید عارف محمدی، د ښاروالۍ دفتر امر علاءالدین مسلمیار، د ښــاروالۍ عوایدو امر جان محمد خان عطایي، د ښــاروالۍ پلانګذارۍ مدیــر انجنیر روح الله توخي، مشــورتي شورا رئیســانو، ګذرو وکیلانو او ښاریانو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د نوموړو پروژو ګټې اخســتنې په موخه جوړې شوې غونډې کې د ښــاروالۍ ســکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید مایار وویل، ښــاروالۍ یوه غیر بودجوي اداره ده چې د ښــاري خدمتونو محصول په راټولولو سره ښار کې د ښاریانو هوساینې لپاره بېلابېلې پرمختیایي پروژې پلې کوي.

همدارنګه ښــاغلي مایار د نوموړو پروژو په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او له ښــاریانو یې غوښــتنه وکــړه د یادو پروژو ساتنې په برخه کې ښاروالۍ سره بشپړه مرسته وکړي.

بلخوا د مزارشریف ښاریانو د ښاروالۍ له کړنو او فعالیتونو یې ســتاینه وکړه او د مزارشریف ښــاروالۍ سره یې د هراړخیزو همکاریو ژمنه وکړه.

اسعداباد ښــار د ګرمۍ موسم د رارسېدنې سره سم په مارکېټ کې د یو شــمیر یخ پلورونکــو لخوا د یخ قیمت لوړېږي او ځینې یې احتــکار کوي ترڅو یې په لوړه بیه وپلوري

د اســعداباد ښــاروالۍ د ښــاري خدمتونــو مدیریت مســؤولین د خپلو کارکوونکو په مټ دغه چاره څارې او چاته اجازه نه ورکوي چې د ټاکلې نرخپاڼې څخه په لوړه بیه یخ وپلوري.

د ښــار په بېلابېلو برخو کې د احتــکار کوونکو څخه یخ (واوره) لیلام او هغوی چې اړتیا یې درلوده پرې په ټاکلي نرخ وپلورل شوه.



کنړ ۱۹

شاروالی ولسوالی نهرین ولایت بغلان مطابق پلان کاری خویش به تمام کارمندان این اداره هدایت داده است تا در بخش های عواید، تنظیف وسرسبزی شهر، آبیاری گلدان‌های داخل شهر توجه نموده و کثافات را جمع آوری و به ساحه دور از شهر انتقال دهند.

بغلان ۲۰

کار جغل اندازی سرک های شهر ولسوالی بُرکه ولایت بغلان به طور اساسی و معیاری که به طول ۱۰۸۸ متر مربع می‌باشد در حضور مولوی عبدالقدیم ندیم، شاروال ولسوالی برکه، مولوی عبدالهادی حقانی ولسوال برکه، قومندان امنیه، مسؤولین ولسوالی بُرکه، علما و کسبه کاران افتتاح گردید.

بغلان ۲۱

## ۱۸ قلم مواد خوراکی تاریخ گذشــته و بی کیفیت شناسایی و جمع آوری شد



مزار شریف ۲۲

به منظور جلوگیــری از فروش اجناس تاریخ گذشــته و بی کیفیت و به اساس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شاروال شهر مزارشریف، تیم تنظیم مارکیت های شاروالی از خوراکه فروشی های ساحات ناحیه چهارم شهر نظارت نمود.

۱۸ قلم مواد خوراکی تاریخ گذشــته از خوراکه فروشی های ساحات ناحیه چهارم شهر توســط تیم تنظیم مارکیت های شاروالی شناسایی و جمع آوری گردید. همچنان برای صنف مذکور جهت تطبیق نرخ نامه توزیع شده و جلوگیری از فروش اجناس تاریخ گذشته و بی کیفیت توصیه های لازم گردید.

## کانکریــت ریزی یک سرک به هزینــه ۴ میلیون افغانی در شهر مزارشریف آغاز گردید




مزار شریف ۲۳

کار کانگریت ریزی سرک سمت غربی سرای قاضی الی بسته مزار در مربوطات ناحیه اول شهر به طول ۴۵۰ متر و عرض ۷ متر با هزینه حدود ۴ میلیون افغانی از عواید داخلی شاروالی مزارشریف با حضور استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی آغاز گردید.

کار ساخت آبروهای کناری، کندن کاری و بستر سازی سرک مذکور تکمیل و کار کانکریت ریزی آن تحت نظارت انجنیران شاروالی به صورت معیاری و اساسی آغاز گردید.

با ســاخت سرک سمت غربی سرای قاضی الی بسته مزار در مربوطات ناحیه اول شهر تسهیلات بیشتر برای ساکنان این ساحه فراهم خواهد شد.

### جلسه شورای شــاروالی قلعه نو با حضور داشت ملا راز محمد ذاکر، شــاروال قلعه نو ولایت بادغیس، اعضای شورای شــاروالی، مدیر حکومت داری شهری و مدیر محاسبه تدویر گردید و در مورد بودجه تفصیلی شاروالی قلعه نو بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.



بادغیس ۲۴

### کارکنان مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی ولسوالی انجیل ولایت هرات به منظور حفظ طراوت، شــادابی، زیبایــی و سلامت درختان، درختان کنار شــاهراه ها را شستشو و سم پاشی اصولی نمود.



هرات ۲۵

## اولین پل هوایی در منطقه چوک فرهنگ شهر هرات افتتاح و بهره برداری رسید



هرات ۲۶

پل هوایی در چوک فرهنگ شــهر هرات بــه همکاری مالی گروپ کمپنی‌های اویســن فارما با هزینــه ۹ میلیون افغانی ساخته شده اســت که با حضورداشت شیخ مولانا اسلام جار والی هرات، اراکین امارتی، خصوصی و شماری از شهروندان هرات افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

شیخ مولانا اسلام جار، والی هرات در برنامه افتتاح این پل با ابراز خرســندی از پروژه های که در یک هفته اخیر در هرات افتتاح و بهره برداری ســپرده شده است بیان داشت که مردم هرات در عرصه های دینی، اقتصادی، علمی و تکنالوژی در حال پیشرفت انــد و هر روز ثمره این پیشرفــت ها در چهار اطرف هرات قابل مشاهده است.

والی هرات افزود: امنیتی که حالا درکشــور تامین است هر شــهروند، تاجر و صنعــت کار بدون هیچ کــدام دغدغه ای امنیتی در شب و روز در هر نقطه‌ای که بخواهد میتواند سفر کند و دیگــر امکانات امنیتی که در گذشــته نیاز بود ضرور نیست و این ثمره قربانی مجاهدین است.

شیخ مولانا اسلام جار خطاب به صنعت کاران و تاجران گفت کــه اداره محلی با هر شرکت و صنعت کار در تســهیل امور کاری شریک و همکار است و بزودترین فرصت به مشکل آنها رسیدگی و تمامی سهولت‌های لازم کاری را فراهم می‌کند.

عبدالکریم شــیرزاد، رییس شرکت اویسن فارما می‌گوید که این پل به گونه اســتندرد ساخته شده اســت و محل جای گزینی لفت در این پل نیز مد نظر گرفته شده که مسئوولیت ساخت آن به دوش شاروالی می‌باشد.

حاجی ناصر امین، معاون اتحادیه دوایی افغانستان، ساخت این پل را نماد روشنی از مسئوولیت‌پذیری اجتماعی صنعت کاران و سرمایه گــذاران در قبــال جامعــه دانســته و ابراز امیدواری کرد که روند ساخت پروژه های زیر بنایی و بازسازی در هرات همچنان ادامه یابد.

### قره باغ ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت د قره باغ ښار ډاکیټرانو ټولنې سره مشورتي ناسته وکړه.
یاد مجلس چې د حکومتدارۍ مدیریت په همغږۍ رابلل شوی و، ناسته د قرانکریم په ایتونو پیل بیا د حکومتدارۍ مدیر د مجلس موضوع او هدف روښانه کړ. چې وروسته د تنظیف او سرسبزۍ مدیر د ډاکټرانو قشر ته د روغتونونو، درملتونونو او لابراتوارونو نظافت عمده ستونزې ور په ډاګه او د اصلاحاتو غوښتنه یې وکړه او مجلس د ډاکټرانو د غوښتنو او نظریاتو په اورېدلو سره پای ته ورسېد.

قره باغ/کابل ۲۷

## اطلاعیه

### اطلاعیه شاروالی شهر ایبک

ریاست شاروالی شــهر ایبک از تمام شرکت های سرک سازی واجد که سوابق کاری در زمینه اعمار و قیرریزی (اسفالت) جاده ها را داشته باشند دعوت بعمــل میاورد که در پروســه داوطلبی قــــیر (اسفالت) سرک مقام ولایت سمنگان در طی سال مالــی ۱٤٠٤ اشتراک نموده و از تاریخ نشر اعلان الی ١٤ روز درخواستی های خویش را بعد از طی مراحل قانونی به ریاســت شــاروالی شــهر ایبک بسپارند.

نوت۱: درخواســتی های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی‌باشد.

نوت۲: تضمین آفر بصورت پول نقده بوده و به روز آفرگشایی آنرا با خود داشته باشند.

جهت معلومات بیشتر بــه شماره های ذیل تماس برقرار نمایید:

٠٧٩٩١١٢٩٤٦

٠٧٩٤٨٨٣٠٠١

٠٧٧٤٥٠١٦٥٧

ولایت سمنگان


## سرک مینا بازار برای سهولت شــهروندان بازگشایی و پاک‌سازی گردید

به هدف نظم‌دهی شــهری و ایجاد سهولت در رفت‌وآمد شــهروندان و به اســاس هدایت مولوی حبیب‌الرحمن منصور، شاروال شهر فیض‌آباد مینا بازار از وجود کراچی داران و دست‌فروشان پاک‌ســازی شد تا سهولت های بیشتر برای شهروندان مساعد شود.

کراچی‌داران و دست‌فروشان نیز به‌گونه‌ی مؤقتی تا روز عید جهت ادامه فروش اجناس‌شان در اطراف سرک به گونه‌ی منظم جابه‌جا شده‌اند.

بدخشان ۲۸

### جلســه آفرگشــایی پروژه اعمار کانال یــک طرفه جاده خواجه محمد تاکی به طول ۲۲۰ متر مربوط ناحیه سوم شــاروالی هرات تحت نظر هیئت مؤظف با حضورداشت قاری محمد عــوض کمالیار مدیر عمومــی قراردادها، مسؤولین بخش های مربوطه و نمایندگان شرکت ها در تالار جلسات شاروالی هرات برگزار گردید.



هرات ۲۹

## غـزني کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په لګښـت د څلورو پروژو چارې پیل شوې




د غـزني ولایت مرکز اړوند د اولې، څلورمې او پنځمې ناحیې په مربوطاتو کې د دریو سـړکونو او د یوه اسـتنادي دېوال جوړولو چارې پیل شوې.

د یادو پروژو د پرانیستې پرمهال د غزني ښاروالۍ سکتورې او مسلکي امر فضل احمد مدني وویل؛ په یادو پروژو څه باندې ۳۲ دوه دېرش میلیونه افغانۍ لګښـت راځي چې د نړیوال بانـک له لـوري ورکـول کېـږي او تخنیکي چـارې یې د (UNOPS) مؤسسې لخوا د غزني ښاروالۍ په همکارۍ مخته وړل کېږي.

نوموړي وویل؛ یادې پروژې په قلعه قدم او توحید اباد سـیمه کې موقعیت لري، چې د سـړکونو اوږدوالـی ۱۲۰۰ متره، پلنوالی یې ۷ متره دی، چې کانکرېټ به شي او چارې به یې د دریو میاشـتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

نومـوړي وویل؛ د دې ترڅنګ یو اسـتنادي دېوال چې قلعه امیر محمد خان سـیمې اړوند سـکورټ بـازار او همدارنګه توحید اباد سـیمه کې موقعیت لـري او هر یو یې ۵۰۰ متره اوږدوالی، څلور متره جګوالی او یونیم متر پلنوالی لري.

هغه وویل؛ پـه دې پروژو کې د ورځې ۴۰۰ تنو کاریګرو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

په ورته مهال د قلعه قدم سـیمې اوسېدونکي د دغو پروژو د پلي کېدو له امله خـوښ دي او له اړوند چارواکو د ورته نورو پراختیایي پروژو د پلي کېدو غوښتنه هم کوي.

له دې یو تن قومي مشر نورګل وویل؛ دغه سړک د غزني ښار یو له مهمو سـړکونو څخه دی، چې د قدم قلعه، کډوالو ښـارګوټي، کلاتي، زرګر، متسـنګ او ځینو نورو سـیمو په زرګونه کسان هره ورځ په یادو لارو تګ راتګ کوي.

باید وویل شي چې څو ورځې وړاندې هم په غزني ښار کې د ښـاروالۍ له لوري د اربابا او پښـتون باد، توحید اباد او ځینو نورو سیمو کې د یو شـمېر سړکونو د جوړېدو چارې پیل شوې وې.

## ترینکوټ ښـاروالۍ اړوند د تنظیف د شېنې ټیم لخوا د ښـار سـړکونه جارو او د ښـار بېلابېلو برخو څخه کثافات انتقال شول

ترینکوټ ښـاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت د شـېنې ټیم لخوا د ښـار سـړکونه جارو او د ښار نورو بېلابېلـو برخو صفایي هم ترسره شـوه چې په زیاته کچه کثافات راټول او د ښـار څخه بهر محفوظ ځای ته انتقال شول.

د ښـار د پاکوالي په دوام د ښـار د څلور واړو ناحیو د سـړکونو د جارو کولو ترڅنګ چـې د عمومي جادو او واټونو دواړو خواوو لښــتیو پاکول او یو شـمیر پلو لارو وېنځل هم پکې شامل و، صفایي ترسره شوه.

ورته وخت کې د یاد ریاست د نظارت او ارزیابۍ عمومي مدیر ملا نذیر احمد وایي؛ د ښـاري ستونزو مخنیوي، ښـاري نظافت ته پاملرنه او د ښاریانو ستونزو ته په کتو سره لومړی د ښـار څخه نظارت ترسره کیږي، ورپسـې یادو برخو باندې پر وخــت اجراات ترسره کوي؛ ترڅو د ښاریان او عامو وګړو سـتونزې حل او ښاریان د ښاري اسانتیاوو څخه برخمن شي.

اروزګان ۳۱

## جلسه هماهنگی وکلای گذرهای ناحیه چهارم و پنجم شهر میمنه برگزار شد




جلسـه هماهنگی وکلای گذرهای ناحیه چهارم و پنجم شهر میمنه به ریاسـت مدیر عمومی حکومتداری شهری شاروالی میمنه بـا حضور مدیر مجلس و شـوراها، مدیـران نواحی یادشده و وکلای گذر به‌صورت جداگانه در تالار جلسات این اداره برگزار گردید.

مدیر عمومی حکومتداری شهری شاروالی میمنه ضمن ابراز قدردانـی از همکاری‌ها و فعالیت‌هـای ارزنده وکلای گذر، تأکید کرد که این وکلا به‌عنوان نمایندگان مردم مسـئولیت دارند تا چالش‌ها را شناسـایی کرده و برای حل آن‌ها راه‌حل های مناسـب جسـتجو نموده و آن‌ها را با رهبری شاروالی شریک سازند.

وی همچنان در مـورد تأمین پاکیزگی و زیباسـازی محیط شهری، مراقبت از ساحات سبز، نگهداری درختان غرس‌شده و همکاری در روند جمع‌آوری صفایی از ملکیت‌های رهایشی به‌تفصیل صحبت نمود.

وکلای گـذر نظریـات و پیشـنهادات خویـش را پیرامون موضوعات مطرح‌شـده ارائه نمودند و تعهد سـپردند که در تمامی بخش‌ها با شاروالی همکار و همگام خواهند بود.

## فراه کې د ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د عسکر اباد سړک د لومړۍ برخې رغنیزې چارې پیل شوې




فراه کـې د دغه ولایـت د والي مولوي غـوث الدین رهبر، ښـاروال مفتي سردار محمـد مرصاد، اطلاعاتـو او فرهنګ ریاسـت رئیس محمد عبدالحي سباوون، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست رئیس مولوي شاه محمد سروري، ارشاد، حج او اوقافو ریاسـت رئیس مولـوي فضل الرحمن مسـتغفر، شهیدانو او معلولینو چارو ریاست رئیس مولوي برهان الدین حلیم، ګنو مسـؤولینو، انجنیري ټیم غـړو او قومي مخورو په ګډون د عسکر اباد سـړک د لومړۍ برخې رغنیزې چارې د ځانګړو مراسمو په ترځ کې پیل شوې.

د دغه سړک د رغنیزو چارو د پرانیستې مراسمو ته د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست رئیس محمد عبدالحي سباوون د خبرو پر مهال وویل؛ چې اسلامي نظام د نورو هېوادونو په څېر د ټولو هېوادوالو په ملاتړ او ملتیا د خپل سوځېدلي او کړېدلي هېواد رغولو، بیارغولو او پرمختګ ته ژمن دی او تل یې په لټه کې دی.

د فـراه والي مولوي غوث الدین رهبر بیا د یرغلګرو پر وړاندې د ولسي وګړو د قربانیو د ستاینې ترڅنګ له ټولو ولسي وګړو څخه د اسلامي نظام د لا پایښـت او هېواد د پرمختګ هیله هم څرګنده کړه او ټولو ولسي وګړو ته یې ډاډ ورکړ، چې د ا.ا.ا ټول مسؤولین د هېواد د پرمختګ او ودانولو لپاره ولاړ دي.

نوموړي همدارنګه فراهي وګړو ته د شیخ ابونصر فراهي بندر د سـړک د رغنیزو چارو د بشپړېدو، د زوریانو د کانال، فراه ـ فـراه‌رود لویـې لارې د دویمې لایحې، ګلسـتان او پرچمن ولسـوالیو د سـړکونو د رغولو زیرې هم ورکړ او زیاته یې کړه، چې په نږدې راتلونکې کې به یې رغنیزې چارې پیل شي.

د فراه ښاروال مفتي سردار محمد مرصاد بیا وویل؛ یاد سړک د ۲۹ میلیونه، ۸۹۹ زره او ۷۹۱ افغانیو په ارزښـت د فراه ولایت مقام له لوري له پل څخه پیل بیا د عسـکر اباد د ریګي کلي تر څنځیر پورې د یو زر او ۷۰۰ متره په اوږدوالي او ۴۰ متره پلنوالي په درلودلو د ٦ میاشتو په موده کې جوړېږي، چې له جوړېدو سره به یې فراهي وګړو ته ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

نوموړي همدارنګه د ولسي وګړو د استملاک له هغې قربانۍ څخه، چې د عسکر اباد سړک ته څېرمه یې شخصي ملکیتونه ښېلي، مننه وکړه او دا یې د دوی د هېوادنۍ مینې، بشپړ یووالي او له شته حکومت څخه د هر اړخیز ملاتړ ښکارندویي وبلله.

باید وویل شي، چې په یاد سـړک د هـرات، نیمروز، هلمند، کندهـار او ان د کابـل ولایت د وګړو د تـګ ترڅنګ د فراه ولایـت د بالابلوک، پـشترود، فراهرود، بکواه، خاکسـفید، پرچمن او ګلستان ولسوالیو وګړي هم تګ راتګ کوي.

د بغلان ولایت پلخمري ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د ښار د سمسوروالي او زرغونتیا په موخه نیالګیو، بوټي او ګلان په بیلابیلو سیمو او شنو ساحو کې اوبه کیږي، دا هرڅه په منظم ډول هره ورځ ترسره کیږي.
همدارنګه د تنظیف کارکوونکي د ښار ښېرازۍ لپاره هم په منظم ډول د پلان له مخې د ښار او شپږ ګونو ناحیو د پاکوالي چارې ترسره کوي.


بغلان ۳۴

## خوست ښار د ښاروال په مشرۍ د اداري مجلس نوبتي ناسته وشوه



خوست ۳۵

د ناستې پیل کې خوست ښاروال مفتي شهزاد نور راشد د ښاروالۍ د کارکوونکو هڅې وستایلې او له هغوی یې د لا ښه خدمت غوښتنه وکړه. نوموړي اخلاص د بریا بنسټ وباله او ویې ویل، چې ټول کارکوونکي باید د اداري اصولو مطابق، په پوره صداقت او اخلاص سره خپل مکلفیتونه ترسره کړي.
ښاغلي راشد دا هم وویل، چې ښاروالۍ د ولس د خدمت ځای دی او اړینه ده چې د ښاریانو د ستونزو د هواري لپاره ربنتیني هڅې وکړو. نوموړي ټینګار وکړ، چې دا ډول کړنې د اسلامي نظام عملي بڼه وړاندې کوي.
ښاروال وویل، چې په اسلامي نظام کې دوی ته مسؤلیت ورکړل شوی او له همدې لارې ولس دوی پېژني. هغه همداراز زیاته کړه، که له ولس، اداري او بیت‌المال سره خیانت ونه شي، نو د جنت مقام ترلاسه کېدل شوني دي.
نوموړي جهاد یوازې وسلوواله مبارزه ونه‌بلله، بلکې د خدای د حکمونو تطبیق، د فساد پر ضد، د ظلم په وړاندې، د نفس سره او د مظلوم ملاتړ، ټول یې د جهاد بېلابېل ډولونه وبښودل.
ورپسې د تېر اداري مجلس راپور شریک شو او په نویو موضوعاتو کې د نویو بارګینو اړوند د ټاکل شوي هیئت د راپور تطبیق، د دویمې ناحیې اړوند د څینو غرفو د مهرلاکو، د حمام مارکیټ او څینو نورو سیمو کې د مختلط هیئت له لوري د خلاص شویو دوکانونو، په نمرو کې د باقیاتو د تحویل او څینو نورو متفرقه موضوعاتو باندې بحث او پرېکړې وشوې.
د یادونې ده، یاد اداري مجلس هر ۱۵ ورځې وروسته ترسره کیږي، چې اداري او ښاري موضوعات پکې تر بحث لاندې نیول کیږي.

شـاروالی غوربند ولایت پروان به هدف باز نگهداشتن پیاده روهـا، جلوگیری از آلودگی صوتـی، جلوگیری از تخلفات شهری، اسـتفاده از سـنگ های معیاری در خرید و فروش و چندین موارد مهم دیگر، بازار ولسوالی سیاگرد غوربند را کنترول و نظارت کرد.



پروان ۳۶

جلسه اداری شاروالی شهر ایبک ولایت سمنگان تحت ریاست قاری خلیل الرحمن رحمانی مدیر عمومی مالی و اداری با حضور کارمندان اداری شاروالی شهر ایبک دایر گردیـد و در مورد چالش‌ها و نیازهـا بحث و تبادل نظر صورت گرفت.



سمنگان ۳۷

## جلسـه هماهنگی با مدیـران نواحی شـاروالی میمنه برگزار گردید



فاریاب ۳۸

جلسـه هماهنگی به رهبری مفتی گل احمد مبشر، شاروال شهر میمنه ولایت فاریاب با اشتراک مدیران نواحی شهری در مقر شـاروالی میمنه برگزار شد و در مورد موضوعات مختلف بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
مفتـی گل‌احمد مبشر ضمـن ابراز امتنـان از فعالیت‌ها و کارکردهای مسـئوولان مربوطه در محدودهٔ شـهر پیرامون بهبود ارائه خدمات شـهری، تسریع روند تنظیف و زیباسازی محیط شـهری و تأمین نظم شهر به مناسبت فرارسیدن عید سعید اضحی به تفصیل صحبت کرد.
اداره شـاروالی میمنه از تمام شهروندان این شهر تقاضا می نماید که به مناسبت فرارسیدن عید سعید اضحی در راستای بهبود وضعیـت محیط شـهری، تأمین پاکیزگـی و ایجاد سرسبزی با حس مسـئولیت‌پذیری با کارکنان خدماتی این اداره همکاری نمایند.

## اطلاعیه

ریاسـت شـاروالی ایبک از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت بعمل میاورد تا در پروسه داوطلبی و اجاره گیری یک باب اپارتمان دارای هشـت بلاک واقع محوطه شـاروالی شهر ایبک از برج اول جوزا ۱۴۰۴ الی اخیر سال مالی ۱۴۰۵ اشتراک نموده و از تاریخ نشر اعلان الی ۱۴ روز درخواستی های خویش را بعـد از طی مراحل قانونی به ریاسـت شاروالی ایبک تسلیم نمایند.
نوت۱: درخواسـتی های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی‌باشد.
نوت۲: داوطلبان، پول نقد خویش را در روز مجلس داوطلبی باخود داشته باشند.
جهت معلومات بیشتر بـه شماره های ذیل تماس برقرار نمایید:
۰۷۹۹۱۱۲۹٤٦
۰۷۹٤۸۸۳۰۰۱
۰۷۷٤۵۰۱٦۵۷

ولایت سمنگان

مولوی روح الله احمدی، شاروال شکردره ولایت کابل با قـاری فدا محمـد فدایی ولسـوال شـکردره، معاون قومندانـی امنیه، مدیر اراضی، مدیر نظارت از احکام و فرامین و مدیر زراعت دیدار نمود و در مورد نخاس عید سعید قربان تبادل نظر نمودند.همچنان کارکنان تنظیف و سرسـبزی جهت صفایی و حفاظت از محیط زیست این ولسـوالی، زباله های مضره شـهرک جمال مینه را پاکسازی نموده و به مکان مناسب آن انتقال دادند.



شکردره/کابل ۳۹

شاروالی ولسوالی بهارک ولایت تخار نظر به پلان کاری قصابی ها، نانوایی ها و رسـتورانت ها را بررسی نمود و همچنان توسط کمیته تنظیم اصلاح شهر میدان نشین های که باعث ازدحام و بندش سرک عمومی شده بودند در سرای ها انتقال داده شدند.


تخار ۴۰

## مهترلام ښاروالۍ د پارکونو د شینوالي او ناروغیو مخنیوي لپاره دوا پاشي پیل کړه


لغمان ۴۱

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د دې ښــار په ټولو پارکونو کـــې د نیالګیو، ونو، ګلانو او زینتي بوټو د حشراتــو او نباتي ناروغیو د مخنیـــوي په موخه د دوا پاشي چاره نن رسماً پیل کړه.

د دغـې برنامــې مشري د مـــهترلام ښــاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیر حاجي شفیع‌الله نیازي وکړه، چې د سرسبزۍ مامــور انجنیر ریحان‌الله اریان یې ملتیا کوله، نوموړي وویل، چــې دغه دوا پاشي د مهترلام ښـــاروال مولـــوي رحمت‌الله شهامت د هدایت له مخې پیل شوې ده.

نیازي زیاته کړه؛ دا چاره به د ښار ټول پارکونه، ونې، ګلونه او زینتي بوټي رانغاړي، ترڅو د حشراتو او امراضو مخنیوی وشي او ښاري چاپېریال لا زیات شین او ښکلی پاتې شي.

نوموړي وویل چې د دوا پاشـــې ترڅنـــګ، د پارکونو لپاره یو منظم د اوبو کولو سیســـتم هم دوی جوړ کړی، چې له مخې یـــې ټول پارکونه او د ښـــار ګلدانۍ په منظم شـــکل د پلان مطابق هره ورځ خړوبیږي.

د یادونې وړ ده چې د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریـــت زیارکـــښ کارکوونکي هـــره ورځ د پلان له مخې د مهترلام ښار د رغونتیا لپاره نه ستړي کیدونې هلې ځلې کوي.

## میدان ښار د زېرزمیني مارکیټ رغنیزې چارې بشپړې شوې


میدان وردګ ۴۲

منې خلورلارې ته څېرمه، د ګربت هوټل مخې ته د زېرزمیني مارکیټ چې د ښـــاروالۍ ریاست له مهمو کاري پروژې څخه ګڼل کیږي، د ښاروالۍ له پرمختیایي بودجې څخه جوړ چې رغنیزې چارې یې د سرتاج ساختماني شرکت له لوري ترسره شوې دي.

د یاد مارکیټ د رغنیزو چارو وروستي براورد ترسره شو او ټاکل شـــوې چې په نږدې راتلونکي کې به رسماً ګټه اخیستنې ته وسپارل شي.

## د هلمند جادې د لبول کارۍ چارې پیل شوې


هلمند ۴۳

د هلمند مرکز لښکرګاه ښـــاروال حافظ صدیق په هدایت د لښـــکرګاه ښـــار د دریېمې ناحیې اړوند کارته لګان سیمې هلمند جاده چې د شورمانو د شا سړک په نامه هم یادېږي د لبول کارۍ چارې یې پیل شوې.

یاد سـرک چې د کارته لګان یو شـمبر سـاحې د کندهار عمومي سـرک سره نښلوي د ښـاروالۍ د انکشافي پلان له مخې لبول کارۍ کېږي.

د نوموړي سړک د لبول کارۍ سره به د کندهار عمومي سړک د شا شورمانو شته  ستونزه هم حل شي.

د انجنیرۍ عمومي مدیریت د پلان له مخې په ښـار کې یو شمبر سـاحې چې لبول کارۍ ته اړتیا ولري جغل اندازۍ او لبول کاري کېږې؛ ترڅو د سـیمې د اوسېدونکو ستونزې په نسـبي ډول حل او په راتلونکې کې یاده سـاحه د قیرریزۍ لپاره چمتو وي.

د یادونې وړ ده چې لښکرګاه ښاروالۍ د سږکال په انکشافي پلان کې ۱۵ پروژې په نظر کې نیولې دي.

## زرنج ښـــاروالۍ پـــه محوطه کې د نوې جومات پرانیســـته ترسره شوه


نیمروز ۴۴

په زرنج ښاروالۍ کې د یو باب نوي جومات چې د ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه تمویل شـــوی، د زرنج ښـــاروال مولوي صلاح الدین ممتاز لخوا رسماً پرانیستل شو.

دغه جومات د ښـــاروالۍ د محوطې دننه جوړ شوی او موخه یـــې د کارکوونکـــو او مراجعینو لپـــاره د لمانځه مناسـب اسانتیاوې برابرول دي. د دې اقدام له لارې د دیني ارزښتونو پیاوړتیا ته یو عملي ګام پورته شـــوی او همدارنګه ښییي چې زرنج ښاروالۍ نه یوازې د ښاري خدمتونو په برخه کې هڅاند ده، بلکې د دیني ارزښتونو خوندیتوب ته هم ځانګړې پاملرنه کوي.

## شاروال قلعه نو از بازار این شهر دیدن نمود



بادغیس ۴۵

شـــاروال قلعه نو با اعضای کمیته نظم شهری از بازار قلعه نو ولایت بادغیس دیدن نمود و مشکلات شهروندان را از نزدیک استماع کرد.

اصناف شهر و دکانداران مشکلات خویش را به شاروال شهر قلعه نو شریک ســاختند و از بررسی بازار توسط شاروال ابراز خرسندی نمودند.

قابل ذکر است که شـــاروال شهر قلعه نو برای حل مشکلات شهروندان و دکانداران به آنها اطمینان داده و از آنها خواست تا در تنظیم و تنظیف شهر با شاروالی همکار باشند.

## جلســـه معرفی وکیل گذر در ناحیه ســـوم توســـط شاروالی محمودراقی برگزار شد



کاپیسا ۴۶

جلســـه معرفی وکیل گذر در ناحیه سوم شهر محمودراقی با حضور مدیر عمومی حکومتداری شـــهری، مدیر ناحیه سوم و جمعی از باشنده گان محل برگزار شد.

مدیر عمومی حکومتداری شهری درباره وظایف، صلاحیت ها و مســـئوولیت های قانونی وکیل گذر سخن گفت و بر نقش مهم آنان در انســـجام امور اجتماعی، رسیدگی به مشکلات محل و ایجاد پل ارتباطی میان مردم و شاروالی تأکید نمود.

وی با اشـــاره به ضرورت ترویج فرهنگ شهرنشـــینی و تقویت همکاری میان شـــهروندان و نهاد های شهری از باشندگان خواست تا با وکیل گذر همکاری داشته باشند.

قابل یادآوریســـت که در این جلســـه  نجیب الله الکوزی به حیث وکیل گذر اول ناحیه سوم به اهالی آن گذر معرفی گردید.

در پایان این برنامه شرکت کننـــدگان ضمن حمایت از روند تعین وکیـــل گذر، تعهد کردند کـــه در جهت بهبود وضعیت اجتماعی محل ســـکونت خویش همکاری همـــه جانبه با نماینده تعیین شده داشته باشند.

رغونه
اونیزه
دافغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## اداره شاروالی شهر نیلی از نانوایی ها، هوتل ها و پیاده روهای شهرک جدید نیلی نظارت نمود




کمیته تنظیم بازار شــاروالی شــهر نیلــی ولایت دایکندی مطابق پلان کاری هفته وار خویــش از ۱۸ نانوایی ۱۵ باب هوتل و پیاده روهای شهرک جدید نظارت کرد.

در جریان نظارت برای مســئوولین هوتل ها و نانوایی های توســط کمیتــه مؤظف توصیه هــای لازم صــورت گرفت و همچنان برای تمام هوتل داران شــهرک جدید نیلی هدایت داده شد تا همرای محصلین که از ولسوالی ها بخاطر امتحان کانکور آمده رویه نیک و همکاری داشته باشد.

## اطلاعیه

### د مزایدې داوطلبی خبرتیا

د کندهار ښاروالی ملکیت د ۹ ناحیې اړوند د تیرې او شــاولیکوټ په هده کې د ۲۰ جریبه ځمکې په مورد محمــد اکبر د ملا رنګیــن زوی د شرطپاڼې مطابق د یوه کال لپاره پــه مبلغ ۴۰۰۰۰۰ څلور سوه زره افغانۍ غوښتونکی دی.

هغه اشخاص چې یاده خالصه ځمکه د شرطپاڼې مطابق تر پورته مبلغ په اضافه پیســو غوښتونکي وي، خپل غوښــتنلیکونه دې د ۱۴۰۴ کال د جوزا میاشــتې له ٦ نېټــې څخه تــر ۱۱ نېټې پورې د تدارکاتو او قراردادونو امریت ته وسپاري. شرطپاڼه کتلای شي د اجارې له سرجمع څخه ۲۰ فیصده تضمین نقداً اخیستل کیږي.

د داوطلبی مجلس به د روان کال د جوزا میاشتې پر ۱۲ نېټه د دوشــنبې په ورځ د سهار پر ۹ بجو د ټاکل شــوي هیئت پــه حضور کــې د تدارکاتو او قراردادونو په امریت کې ترسره شي.

د لا زیاتــو معلوماتو لپاره پر لاندې شــمېرو اړیکه ونیسئ.

۰۷۰۰۴۳۳۵٦۷ / ۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸

کندهار ولایت

## جلال اباد ښــاروالۍ له لوري د حلقوي سړک د سنټرلاین د تطبیق په موخه د تخنیکي ټیم له لوري د سروې چارې جریان لري




د جلال اباد ښــاروالۍ له لوري د جلال اباد ښار د څلوېښت متره سړک د سنټرلاین د معلوملو او تطبیق په موخه د پلان امر انجنیر احمد جاویــد جهانمل او تخنیکي ټیم له لوري د ساحې د سروې چارې جریان لري.

د یاد ســړک تر تخنیکي سروې وروســته به یې د مســیر د خلاصولــو او پاکولو په موخه په نــږدې راتلونکي کې عملي چارې پیل شي.

دغه څلوېښــت متره حلقوي ســړک چې ټول ۲۱ کیلو متره اوږدوالی لري په څــو برخو کې به د جلال اباد ښــاروالۍ، همکارو مؤسسو او مرکزي ادارې په همکارۍ جوړ شي.

یاد ســړک د نهمې ناحیې له ثمرخیلو پیل د بهسودو تر پل پورې او د بهســود پل نه د اوومې ناحیې تر سرخاب پل پورې د ۱۳۹۲ کال ماستر پلان له مخې ترتیب شوی.

د یاد ســړک په جوړېدو سره به د جلال اباد ښــار ګڼه ګوڼه راکمه او ښاري پراختیا رامنځته شي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبرۍ هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسســو په مرســته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

## کارکنان تنظیف و سرسبزی شــاروالی شکردره ولایت کابــل جهت صفایــی و حفاظت از محیط زیســت این ولســوالی، زبالــه های مضره بــازار قلعــه مرادبیک را پاکسازی نمودند و به مکان مناسب آن انتقال دادند.




## میدان ښار د ښوراو کندې پر سر د پُل جوړولو چارې بشپړیدو ته نږدې شوې




د میدان ښار ښاروالۍ ریاست له لوري د ښوراو کندې پر سر د پُل جوړولو چارې وروستي پړاو ته رسېدلي دي. یاد پُل چې د اداري اصلاحاتو، ماموریتو او ناصریانو پروژو لوري ته د تګ راتګ لپاره حیاتي ارزښــت لري، اوس مهال د ښــاریانو تګ راتګ ته خلاص شــوی، خو د پُل دواړو لوریو ته د شته کندو ډکولو وروسته به رسمي ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د ښــاروالۍ ریاست د ښــاریانو د هوســاینې، د تګ راتګ اسانتیاوو او د ښاري زیربناوو د پراختیا لپاره ژمن دی.

د ښوراو کندې پر سر د پُل جوړول د دې ژمنتیا یوه بېلګه ده. ښاریان دې د ښــاروالۍ له لوري د پلي کېدونکو پروژو ملاتړ وکــړي او د ښــاري نظم او پاکــوالي په ســاتنه کې دې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي.

## غزني ښار د پښتون اباد ســړک د کانکریټ چارې رسماً پیل شوې




د غزني ښاروالۍ ریاست او ملګرو ملتونو د دفتر په همکارۍ د ښــار په پنځمه ناحیه کې د پښتون‌اباد د سړک د کانکریټ چارې پیل شــوې، چې د ســیمې د خلکو لــه ډېرې مودې غوښتنه وه.

دا سړک چې له مینا جومات څخه پیلېږي او د پښتون‌اباد تر پای پورې غزېدلی ۸۰۵ متره اوږدوالــی، ٦ متره پلنوالی او ۸۰۵ متره لښتې لري.

د پروژې مسؤولین وایي ټولې چارې به یې د یوې میاشتې په موده کې بشــپړې شي او ســړک به د خلکو د تګ راتګ او ټرافیکي جریان لپاره یو اساسي بدلون راولي.

د یادونــې وړ ده چې د پروژې د پلي کېــدو په موخه د دربو کورونو دیوالونه د خلکو په رضایت سره لرې شوي، څو کارونه له خنډ پرته په معیاري ډول ترسره شي.

د غزني ښاروالۍ مشرتابه ډاډ ورکړی چې دا ډول پروژې به د ښــار په بېلابېلو برخو کې دوام ومومي او د ښــاریانو د ژوند کیفیت به ورسره روڼ راتلونکی ومومي.

**د اسعداباد ښاروالی د تنظيف برخې کارکوونکي د خانګړي پلان له مخي خپلي ورځنی چارې پرمخ وړي نن ورځ د اولې او څلورمې ناحيې په حدوداتو کې بند شوي لښتيو د خلاصون سربيره د مختلفو برخو څخه کثافات راټول او انتقال شول.**



کنړ ۵۲

**کار رنگمالی تعمير جديد تحويلخانه رياست شاروالی شهر سرپل تکميل گرديد**



سرپل ۵۳

پروژه اعمار تحويلخانه در محوطه شاروالی سرپل به ارزش يک ميليون و يکصد دو هزار و پنجصد (۱,۱۰۲,۵۰۰) افغانی از بودجه انکشافی رياست شاروالی شهر سرپل تطبيق گرديد که کار رنگمالی آن امروز تکميل شد.

رياست شاروالی شهر سرپل در نظر دارد تا با تطبيق چنين پروژه‌ها، محيط کاری معياری‌تر و خدمات بهتر را برای شهروندان فراهم سازد.

**پروژه اعمار کانال غرب گرده پارک ترقی به طول ۷۴۲ متر مربوط ناحيه چهارم شاروالی هرات با حضورداشت قاری محمد عوض کماليار مدير عمومی قراردادها، مسؤولين بخش های مربوطه و نمايندگان شرکت های اشتراک کننده در تالار جلسات اداره شاروالی هرات آفرگشايی شد.**



هرات ۵۴

**جلسه آفرگشايی پروژه اعمار کانال و کانکريت ريزی کوچه های گذر جی ۱۱ باغچه روغنی جوار مکتب به طول ۱۸۰۰ متر و عرض ۵ متر مع کانال به طول ۶۸۰ متر مربوط ناحيه هفتم شاروالی هرات با حضورداشت دلبر محمدی مدير عمومی قراردادها، مسؤولين بخش های مربوطه و نمايندگان شرکت های اشتراک کننده در تالار جلسات شاروالی هرات برگزار شد.**



هرات ۵۵

**غزني ښاروالی لخوا د غيرېزي ککړتيا د مخنيوي په موخه د ښار په بېلابېلو بازارونو کې څار ترسره شو**



غزني ۵۶

غزني ښاروالی د ښاري نظم مديريت د يوې مهمې څارنې په لړ کې چې هدف يې د ښار په عمومي واټونو کې د غيرېزې ککړتيا کمول و ۱۵۰ لوډسپيکرونه راټول کړل.

دا اقدام د هغو اوازونو د مخنيوي لپاره ترسره شو چې د ښار په عامه ځايونو کې د غږ ککړتيا لامل ګرځېدلي وو.

د غزني ښاروالی د ښاري نظم مدير حافظ احمد وويل موږ په غزني ښار کې د غيرېزې ککړتيا د مخنيوي لپاره د دې لوډسپيکرو راټولول پيل کړل، ترڅو په ښار کې د چاپېريال له نظره روښانتيا راوړو.

دغه اقدامات د ښاري نظم د ښه والي او د خلکو د راحتي لپاره ترسره کېږي.

غيرېزه ککړتيا په ښار کې د ژوند توازن ته زيان رسوي او د خلکو لپاره د ژوند د معيار کمښت لامل کيږي.

**نزديک به نيم تُن مواد تاريخ‌گذشته و بی‌کيفيت توسط شاروالی يکاولنگ جمع‌آوری و حريق گرديد**



باميان ۵۷

شاروالی يکاولنگ ولايت باميان در راستای تأمين سلامت شهروندان و ايجاد محيطی مصئون، نزديک به نيم تُن مواد خوراکی و آشاميدنی تاريخ‌گذشته و بی‌کيفيت را از فروشگاه ها و مراکز توزيعی شهر جمع‌آوری و به‌گونه مسؤولانه حريق کرد.

اين مواد پس از بررسی‌های دقيق و ارزيابی‌های صحی به دليل عدم مطابقت با معيارهای بهداشتی برای مصرف انسانی غيرقابل استفاده تشخيص داده شد.

شاروالی از تمام شهروندان تقاضا دارد تا در صورت مشاهده مواد تاريخ‌گذشته يا مشکوک، موضوع را با شاروالی شريک سازند تا با همکاری مردم محيط سالم و امن برای همه ايجاد نماييم.

**د ميدان ښار ښاروالی اداري ناسته ترسره شوه**




ميدان وردګ ۵۸

د ميدان ښار ښاروالی رياست کې د ښاروال ملا رازمحمد فاروقي په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه، چې د رياست اروند ټولو اداري مسؤولينو او کارکوونکو ګډون کړی و.

په دې ناسته کې، ښاغلي فاروقي د ښاري خدمتونو د ښه والي، د اداري چارو د لا زيات تنظيم، شفافيت او چټکتيا اړوند لازمي سپارښتنې وړاندې کړې او ټينګار يې وکړ چې له مراجعينو او ښاريانو سره بايد د نيتونو په اخلاص، ښه برخورد او درناوي چلند وشي او د ا.ا.ا. احکام او فرامين په پوره استعجاليت سره پلي کول بايد د هر کارکوونکي لومړيتوب وي.

همدارنګه، د ناستې په دوام کې د اجندا له مخې اړوند موضوعات وارزول شول، د ستونزو حل لارې وڅېړل شوې او په اړه يې لازمي پرېکړې وشوې.

**د قرهباغ ښاروالی د حکومتولی مدير، ښاغلي سيد ادريس هاشمي، د عبدالوکيل شهيد لېسې د استادانو سره ناسته وکړه**




قرهباغ / کابل ۵۹

ترڅو د ښاري کلتور د ودې او ښاري ذهنيت د رواج په موخه د ښاروالی کمېټه په ياده ليسه کی فعاله کړي.

په دې ناسته کې ښاغلي هاشمي د کمېټې د جوړېدو هدفونه روښانه کړل او څرګنده يې کړه چې د دې نوې جوړې شوې کمېټې له لارې به د ځوانانو په ګډون د سيمې خلکو ته د ښاري ژوند اصول، ښاري نظم، پاکوالي، شنه چاپېريال او د ګډ ژوند ارزښتونه معرفي شي.

نوموړي زياته کړه چې د زده‌کوونکو ونډه به د ښاري فرهنګ په پراخولو کې مهم رول ولوبوي.

دا کمېټه به د ښوونځي له لارې د ښاري کلتور په اړه عامه پوهاوي زيات کړي، مثبت پيغامونه خپاره کړي او د ښاري خدمتونو په اړه د خلکو د همکارۍ ذهنيت پياوړی کړي.

رغونه اونيزه

د ولاياتــو او ولســواليو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونيزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## شاروالی چاریکار مسیر سیلاب در ناحیه پنجم شهر چاریکار را باز نمود



پروان ۶۰

نظر به درخواســت اهالــی ناحیه پنجم شــهری، کارکنان و ماشــینری مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شــاروالی چاریکار ولایت پروان بیش از یک کیلومتر مسیر سیلاب را در ناحیه پنجم صاف‌کاری نمودند.

این ساحه که در مسیر جریان سیلاب‌های موسمی قرار دارد، بارها از اثر باران‌های فصلی و سیلاب‌های موسمی با رسوبات کوهســتانی پر گردیــده بــود و جریان ســیلاب خانه‌های مسکونی اطراف آنرا تحدید می‌کرد.

مردم و اهالــی محل از اقــدام به موقع شــاروالی و قبولی درخواست‌شان ابراز خرسندی نمودند.

## میدان ښار د نیالګیو خړوبولو چارې دوام لري



میدان وردګ ۶۱

د میدان ښار ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لورې د ښار د شنو ساحو د ســاتنې او ښکلا د دوام په موخه نن د کابل ـ کندهار لویې لارې په اوږدو کې او د علماوو شــوراء او غازي امان الله خان ورزشي لوبغالي شــاوخوا فرعي سړکونو کې شــته نیالګي او بوټي د ښاروالۍ اړوند ټانکرونو په وسیله خړوب شول.

د ښــاروالۍ ریاســت هڅه کوي ترڅو د ښار د مختلفو سیمو نیالګي په منظم ډول له اوبو څخه برخمن شي او د وچېدو او زیان مخه یې ونیول شي.

**کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی حیرتان نهال های دو طرف جاده عمومی شهر حیرتان را آبیاری و ساحات سر چاه شهر حیرتان، مرکز شهر و کنار دریا آمو را از وجود کثافات پاک نمودند. شاروالی حیرتان مصمم برنامه‌های منظم آبیاری نهال‌ها و نقش مؤثری در نگهداری و رشد پوشش گیاهی ایفا کند.**

مزار شریف ۶۲

## اطلاعیه

به اطلاع عموم افراد و اشــخاص رسانده میشود که مجتبی فرزند لطف‌الله برنده تهجایی ساحه نخاس (ســاحه فروش حیوانــات) در بــدل کرایه ماهوار ۳۸۵۰۰ افغانی جایداد ذیل را از طریق داوطلبی تحت نظر هیئت مختلط به مدت یکســال برنده شناخته شد.

اشــخاص حقیقی و حکمی که هرنــوع اعتراض داشته باشــند می‌توانند اعتراض خود را از تاریخ نشر اعلان تا مدت ۷ روز تقویمی به صورت رسمی (کتبی) توام با دلایل موجــه آن به مدیریت عواید اجــاره و مقروضیت‌های مدیریــت عمومی عواید شــاروالی چاریکار واقع تعمیر ریاســت شاروالی چاریکار ارائه کنند.

باید متذکر شــد کــه این اطلاعیه بــه معنی عقد قرارداد اجاره ملکیت‌های نامبرده نبوده و تا تکمیل میعاد فوق‌الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

ولایت پروان

## خوست ښــار ایوبي الشفاء روغتون به د ښــاروالۍ تنظیف کارکوونکي په جوړېدونکي وړیا روغتیایي کمپ کې شامل کړي




خوست ۶۳

ایوبي الشفاء روغتون له خوست ښاروالۍ سره په همغږۍ، د ښــار د تنظیــف او سرســبزۍ برخــې کارکوونکــي په جوړېدونکي وړیا طبي کمپ کې شامل کړي.


د یاد روغتون مســؤول انجنیر نقیب شــاه ایوبي د خوست ښــاروال مفتي شهزاد نور راشــد سره په لیدنه کې وویل، چــې دا کمپ به له اختر مخکــې پیل شي او څو ورځې به دوام وکړي. نوموړي زیاته کړه، چې هدف یې د هغو کسانو درملنه ده، چې د اقتصادي ســتونزو له املــه روغتون ته لاسرســی ګران وي، په ځانګړي ډول د ښاروالۍ تنظیف او سرسبزۍ کارکوونکي.

ښاروال مفتي شــهزاد نور راشد د یاد روغتون له مسؤولینو منــه وکړه، چې د تنظیف برخــې کارکوونکو روغتیا ته پام کوي او هغوی خپل د کورنۍ غړي ګڼي.

ښاغلي راشــد په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې ښاروالۍ تل هڅه کړې یو معیاري ښــار جوړ کــړي او د اوږدمهالو پلانونو لــه مخې ښــاریانو او خصوصاً پانګوالــو ته لازمي اسانتیاوې برابرې کړي.

د یادونې وړ ده، چې دغه کمپ به له اختر مخکې پیل شي او څو ورځې به دوام وکړي.

## خوست ښار پېژندنې روزنیز ورکشاپ دایر شو



خوست ۶۴

د خوســت ښــاروالۍ ښــاري حکومتولۍ امریت له لورې د حکومتي ادارو ویاندویانو او د سیمه ییزو او ملي رسنیو استازو ته د خوست ښار پېژندنې په اړه روزنیز ورکشاپ ترسره شو.

د ښــاري حکومتولۍ امر محمدالله شېرزي د خوست ښار په تاریخي ســیر او پراختیا خبرې وکړې، چې په ۱۳۳۲ لمریز کال کې یې په دودیز ډول پراختیا پیل شــوه او تر نن ورځې پــورې دوام لــري، چې د ماســټر پلان په جوړېــدو سره به اوږدمهاله پراختیا تضمین شي.

د هغه په خبره اوس مهال خوست ښار ۹۷،۵ کیلو متره مربع مســاحت لري، چې په ۷ ناحیو او ٦۳ ګذرونو ویشل شوی او شاوخوا ٦ ســوه زره وګړي یې په پلاني او غیرې پلاني ساحو کې ژوند کوي.

همداشــان په ترتیب شوي پرېزېنټېشن کې د اوو ګونو ناحیو خلور خواوې، مساحت، نفوس، ګذرونه او پکې دخیلې سیمې ګډونوالو ته تشریح کړل شوې، چې په ورځنیو چارو او خبري برخه کې ترې ګټه واخیستل شي.

د یادونې وړ ده، چې د ښــاري حکومتولۍ امریت له لورې د ښار پېژندنې برخه کې دغه ګام د یادو نهادونو د عامه پوهاوي په موخه ترسره شــو او دغه لړۍ به روانه وي، ترڅو ښاریان د خپل ښار په اړه بشپړو مالوماتو ته لاسرسی ولري.

## خوست ښــاروال د رســنیو له خبریالانو سره د همغږۍ ناسته وکړه

خوست ښاروال مفتي شــهزاد نور راشد د محلي، ملي او نړیوالو رسنیو له خبریالانو سره د همغږۍ ناسته ترسره کړه.

په دې ناســته کې ښاغلي راشد له خبریالانو او د رسنیو له مســؤولینو ځانګړې منته وکړه، چې د ښــاروالۍ د پرمختګونو، خدمتونو او ښاریانو د ستونزو د شریکولو په برخه کې یې له ښــاروالۍ سره نږدې، فعاله او پیوسته اړیکه ساتلې ده.

نوموړي زیاته کړه چې خبریالانو د خپلو راپورونو او برنامو له لارې د ښــاروالۍ چــارې او د خلکو غږ ته په مینه او اخلاص انعکاس ورکړی دی.

ښاروال د رســنیو پر ارزښت هر اړخیزې خبرې وکړې او خبریالان یې د تولنې سترګې وبلل. نوموړي ډاډ ورکړ، چې د ښــاروالۍ اړوند مالومات به له خبریالانو سره پر وخت شریکوي او له دوی سره به اړینه همکاري کوي.

همدا شان خبریالانو هم په خپلو خبرو کې له ښاروالۍ سره د خپلو اړیکــو د دوام ډاډ ورکړ او ګرګنده یې کړه، چې د تېر په څېر به له ښاروالۍ سره د ښاري خدمتونو د انعکاس او د خلکو د ســتونزو د راپور ورکولو په برخه کې فعاله ونډه ولري.

د یادونې ده، چې ښــاروالۍ به په توله مانا هڅه کوي؛ ترڅو د خپلو ادرســونو ترڅنګ د رســنیو له لارې خپل ښاریان له اطلاعاتو با خبره وساتي.

خوست ۶۵